دوکتور م، عثمان تره کی

۲۰۱۹/۰٤/۱٦

# جګړه په افغانانو باندې تپل شوېده !

بناغلي خلیل زاد د امریکا د سولې سفیر د افغانستان جګړه تپل شوې نه بولي. موږ په افغانستان باندې امریکا یرغل او تیري ته، پخواني فیصله شوې بحث په توګه کتل چه زیاتې مشاجرې ته اړتیا نلري. خو د محترم خلیلزاد نوي ځرګندوني په داګه کوي چه په موضوع باندې کافي رڼا ندې اچول شوې. محترم خلیل زاد ته د لاندې مضمون د مطالعې بلنه ورکوو. مقاله د آرشیف نه ایستل شوې دي.

## امریکا د افغانستان د اشغال په مقصد پلمې لټولې :

د ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر میاشتې په ۷ مه امریکا او انګلستان په نویارک کې د تروریستي برید په ځواب، د نړیوالو قوانینو او د ملګرو ملتونو د منشور په خلاف د ملګرو ملتونو د یوغړي هیواد (افغانستان) د بمباریو په کامپاین پیل وکړ. په همدغه ورځ په ملګرو ملتونو کې د امریکا دایمي استازي، امنیت شورآ رئیس ته د یو لیک د استولو په ترڅ کې هلې ځلې وکړې، چې د تیري (تعرض) د توجیه په موخه د منشور د ۵۱ مادې په بنسټ باندې امریکا د انفرادي او ډله ایز مشروع دفاع حق د استفادې مستحق وګڼي یعني د نظامي برید حقوقي بنسټونه ورانديز کړي.

امنیت شورا ته د امریکا په لیک کې راغلي: «د سپتامبر د ۱۱ پیښې نه وروسته د امریکا حکومت روښانه او کره معلومات تر لاسه کړې چې القاعده چې د طالبانو ملاتړ له ځان سره لري د امریکا ضد په برید کې مرکزي رول لولوباوه. د پیښې په اړه زموږ پلټنې په لمړي پړاو کې قرار لري. د پلټنو له پرمختګ سره جوخت د ځینو نورو سازمانونو او هیوادونو په ورانديز د زیاتې نظامي عملیاتو حق خانته خوندي ساتو ...».

د نوموړې پلټنې پایلې ځرګندې نشوې. امریکا تر اوسه پورې هیڅکله هغه معلومات چې د سپتامبر ینه له افغانستان سره وتړي نـدي وړاني کړي. د افغان اسلامي آژانس چې له طالبانو سره نږدې اړیکې لرل د سپتامبر په ۱۷ مه د "بن لادن" یوه اعلامیه خپره کړه چې په کې بن لادن ملا عمر ته د خپل بیعت په اړه تماس نیسي. آژانس د ده له قوله وایي چې: «ملا عمر ماته د افغانستان له آدرسه د ورته عملیاتو اجازه نده راکړې».

په ۲۰۰۱ کال د سپتامبر په ۱۸ مه د طالبانو حکومت چمتووالی وښود چې د شواهدو او سندونو په بدل بن لادن یو باوري نړیوال قضایي مرجع ته وسپاري. امریکا چې د افغانستان د اشغال په موخه د پلمې په لټه کې وه د بن لادن بلا قید او شرط تسلیمېدو غوښتنه وکړه.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

## بې سنده ادعا :

امنیت شورآ ته د امریکا د حکومت لیک په دوو ټکو باندې ولاړ و: «تروروستي برید» او «دمشروع دفاع حق»:

ـ امریکا د «تروروستي برید» پړه په طالبانو باندې واچوله. ځکه چې د امریکا له نظره دوی القاعدې ته اجازه ورکړې وه چې د افغانستان د خاورې په یوه برخه باندې کنترول ولري. خو امریکایي چارواکو تر اوسه پورې هیڅ یو سند چې په نیویارک کې تروروستي برید د افغانستان د خاورې په د ننه طراحي شوی وي یا د افغانستان د وخت واکمنه ډله په پېښه کې لاس ولري ندی وړاندې کړی.

ـ که پېښه د افغانستان په تړاو مطرح هم شي، بین المللي قوانین چا ته اجازه نه ورکوي چې د پېښې نه یو میاشت وروسته د «مشروع دفاع حق» د کته اخیستنې په پلمه د تیري کونکي هیواد په ضد نظامي غبرګون وښیي. د ملګرو ملتونو اساسنامه د مشروع دفاع له حق نه کته اخیستنه د یو لړ شرطونو سره په تړاو مطرح کوي چې د افغانستان په اړه له پامه غورځول شوي ده.

د مشروع دفاع حق له کورنیو حقوقو نه نړیوالو حقوقو ته ورداخلیږي. په دواړو کې لمړی باید دښمن وپېژندل شي او وروسته تر ګواښ لاندې اړخ د یو چټک خطر په وړاندې چې د مرګ او ژوبلې احتمال پـه کې وي باید ګړندی غبرګون وښیي. له خطر نه د ځو اونیو په تیریدو سره د مشروع دفاع له حق څخه کته پورته کولی نشي.

په بل عبارت په نړیوالو او کورنیو حقوقو کې تر هغه وخته پورې چې د کره معلوماتو له مخې دښمن ندی پېژندل شوی د یوې پېښې د رامنځته کېدو نه څه موده وروسته د مشروع دفاع د حق نه د یو کس یا دولت په ضد، کته پورته کولي نشو. د همدغه فورمول له مخې د ملګرو ملتونو سرمنشي کوفي عنان او د فرانسې ولسمشر ژاک شیراک او د امریکا ګڼ شمېر متحدینو په ډاګه څرګند کړل چې تر هغه وخته پورې چې د جنایت عاملینو (فرد، سازمان یا دولت) ندی پیږندل شوی د افغانستان په ضد نظامي یرغل د توجیه وړ نه ګڼل کیږي.

لنډه دا چې د بوش ماجرا غوښتونکي اداري په عراق باندې د یرغل د توجیه په مقصد عراق د ډله ایزې وژنې د وسلې په درلودلو تورن کړ او د افغانستان د اشغال په موخه د سپتامبر په پېښه کې یې افغانستان ګرم وباله.

د افغانستان د جګړې د حقیقتونو د موندلو په موخه باید د ملګرو ملتونو په سروالي یو خپلواک بین المللي کمسیون وټاکل شي. کوم چې امریکا په امنیت شورا کې د کمسیون د جوړېدو مخه نیسي اړینه به وي چې پدې برخه کې د نړۍ په کچه د بشري حقونو سازمانونه لمړني کارونه ترسره کړي او راپور په راتلونکي مناسب وخت ملګرو ملتونو ته وسپاري.

## د  مشروع دفاع له حق نه ناوړه استفاده :

امریکا په افغانستان باندې برید د ملګرو ملتونو د منشور د ۵۱ مادې په بنسټ د توجیه وړ ګڼي. ۵۱ ماده  وایي: «کله چې د ملګرو ملتونو یو غړی هیواد، د وسله وال تیري (تعرض) موخه وګرځي په یوازې یا ډله ایزه توګه د ځان نه تر هغه وخته پورې دفاع کولای شي چې امنیت شورا د نړیوالې سولې او امنیت د راوستلو په موخه مناسب اقدامات تر لاس لاندې ونیسي».

په قضیه باندې د امنیت شورا د ورګډولو موخه دا ده چې دولتونه «تیرې» ته په خپله خوښه  تعریف او محتوآ ورنکړي. یعني تیرې ته په تیرې ځواب ورنکړي.

په هغه لیک کې چې د امریکا حکومت امنیت شورا ته ورلیږلی و یکې په ډاګه شوي وو چې «د پېښې په اړه زموږ څېړنې په لمړي پړاو کې قرار لري». د تروریستي برید او په افغانستان باندې د نظامي یرغل تر منځ کافي اندازه وخت و تر څو د «څېړنې لمړی پړاو» نهايي شي او امنیت شورا د امریکا په ادعا هغه ګواښ چې د افغانستان له درکه امریکې ته متوجه و وڅېړي او ورسره د مقابلې په مقصد لازم اقدام تر لاس لاندې ونیسي. خو امریکا چې د افغانستان اشغال ته ملا تړلې وه په بیړه یو جنایت ته (تروریستي برید) د بل جنایت (تیري) له لارې ځواب ورکړ.

«وسله وال تیری» چې د ملګرو ملتونو د منشور په ۵۱ ماده کې ورته اشاره شوې په نړیوالو حقونو کې دقیق تعریف لري.

د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې په هغه ضمیمه کې چې په ۳۳۱۴ نمبر پرېکړه لیک باند(د دسامبر ۱٤ ـ ۱۹۷٤ کال ورزیات کړ داسې وویل: «د یو بل دولت په وړاندې د وسلې یو اړخیز استعمال، د منشور سرغړونه او د تعرض بشپړ ثبوت ګڼل کیږي». تعرض داسې تعریف شوی: «د یو دولت له خوا د بل دولت د سیاسي خپلواکۍ او ځمکني بشپړتیا په ضد د ملګرو ملتونو د منشور په خلاف د قواه استعمال». په نیویارک کې تروریستي بریدونو دوه ساعته دوام وموند. د هغو په پای کې د امریکا ملي واکمني او ځمکنۍ بشپړتیا د هیڅ ګواښ سره مخ نه وه. بناءً د بین المللي قوانینو له مخې د یو تروریست اقتضایي او مجرد وسله وال برید ته د «وسله وال تیري» نوم اینبودلی نشو. فردي او سازماني تروریزم سیاسي جنایت شمیرلی شوچې باید ورسره له استخباراتي، سیاسي او پولیسي لارې مقابله وشي نه نظامي.

بنا د تعرض تعریف د نیویارک په برید باندې اطلاق کولی نشو. برخلاف په هغه وسله وال یرغل چې امریکا او انګلستان په افغانستان باندې وکړتکې په ټکې تطبیقیږي. د تعرض جامع تفسیر هغه دولتونه هم په بر کې نیسي چې خپله خاوره تیري کونکو دولتونو ته په واک کې ورکوي. د مثال په توګه روسیه، پاکستان، قرغزستان او تاجکستان چې امریکا او ناټو ځواکونو ته مواصلاتي لارې برابرې کړې وې د تیري کونکو په ډله کې شمیرل کیږي.

## د تیري حقوقي پایلې:

د تعرض په تړاو د دولتونو او افرادو مسئولیت مطرح کیږي.

### الف ـ د دولتونو مسئولیت:

نړیوال حقوق، تیری د سولې په ضد د جنایت په توګه پیږني او متعرض دولت ته د تعرض لاندې دولت په کته مکلفیتونه ټاکي. له هغې جملې نه:

ـ د پوځیانو په ایستلو کې د تعرض نه مخکې حالت بیا رغونه.

ـ ژمنه چې ناقانونه عمل نه تکراریږي.

ـ د جګړې تاوان.

پدې برخه کې اړینه ده چې د افغانستان د جګړې د تاوانونو د جبران په اړه د ملګرو ملتونو تر مشرتابه لاندې یو با صلاحیته کمسیون جوړ شي چې په کې په جګړه کې برخه وال هیوادونه ګډون ولري. کمسیون د تاوانونو د څیړنې نه وروسته یوملي صندوق ټاکي. البته دغه وړاندیز د سولې نه وروسته مطرح کیدای شي.

### ب ـ د افرادو مسئولیت:

د نازي آلمان له ماتې نه وروسته هغه محکمه (نورنبرګ) چې د جنګي جنایت کارانو د محاکمې لپاره جوړه شوې وه ، تیرې د «سولې ضد جنایت» په توګه وپیژاند. نن په نړیوالو حقوقو کې تیرې د جنایت په معنا کارول کیږي. د سزا نړیوال دیوان تیرې د جنایت په مفهوم کارولی دی.

دلته د هغو جنایتونو په اړوند خبرې نکوو چې په افغانستان کې د جګړې په بهیر کې، بهرنیو قوتونو او افغان امنیتي پرسونل ته منسوب کیږي. زموږ د بحث موضوع د سولې په ضد جنایت دی چې د دولتونو تر منځ مطرح کیږي: نړیوال حقوق ټول هغه کسان ګرم شمیري چې د خپل دولت په استازیتوب یې، افغانستان ته د ځواکونو د استولو په موخه زمینه برابره او پریکړه کړې ده.

د امریکا او برتانیې په لوړ پوړو سیاسي چارواکو باندې چې په افغانستان باندې د بمباریو پریکړه کړې، ځواکونه یې ورلیږلي، مزدور حکومتونه یې پرې تپلي، ملي واکمني او خپلواکي یې تر پښو لاندې کړې چې په ترځ کې یې په زر هاوو افغانان ووژل په انفرادي توګه د جنایت تور لګیږي.

د تعرض د جنایت د مسئولینو د محاکمې په مقصد مختلفې لارې مطرح کیدای شي:

ـ دنړیوالې سزا دیوان: پرته له امریکا نه د نړیوال نظامي ائتلاف زیات هیوادونه د دیوان غړیتوب لري.

ـ لنډ مهاله محکمه.

ـ د ملي قوانینو د احکامو په بست. دغه امکان په ځینو هیوادونو کې لکه په امریکا کې وجود لري.

په لنډو! د افغانستان په ضد د امریکا له خوا د قواه استعمال د بین المللي حقونو د حکمونو سره په ټکر کې دی او مشروعیت نلري : په پیښه کې د افغانستان د لاس لرلو نښې نښانې ندي وړاندې شوې او د مشروع دفاع له حق نه ناوړه استفاده شوې ده .

فرانسه

۲۰۱۵ م کال د سپتامبر ۱۱

## تذکر:

هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با "کلیکی" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به "آرشیف" شان رهنمائی شوند.

جګړه په افغانانو باندې تپل شویده!

Osman_r_taraki_jagla_pa_afghanano_tapel_showeda.pdf